**ليکونکی**: جاکيوس .ار. پيويلز (**Jaequs.R.Pauwels**)
منبع اودخپريدو نيټه : کونترپونچ «2018-12-10».
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# په انقلابی روسيه کی لاس وهنه

## Interventions in Revolutionary Russia



Photo Source http://visualrian.com/images/item/850828 | CC BY 2.0

د اروپا په سرتا سر کی لمړی نړيوا له جګړه د (1917) کا ل په لمړيو کی د يو انقلابی با لقوی وضيعت زمينه را مساعده کړ او په هغه هيوادونو کی چی واکمنو چارواکو خپل کړنی د سنتی يا د دود يزی نخبګا نو په استا ذ يتوب سره مخ ته وړل په همغه شا ن سره وه کوم چی په کا ل (1914) کی وه يعنی دهغوی مخه دا وه چی ددی احتما لی پوتانسيل درا پيښيدو اويا دانطبا ق مخه د فشار په واردولو او د امتيا زاتو په له د مينځه وړلو اويا د دواړو لارو څخه ونيسی يا ډ پ کړی . اما د روسيی په مورد کی نه يواځی داچي انقلاب د ما تی سره مخا مخ نشو بلکه د لته انقلاب بريا لی شو او بلشويکا نو په نړی کی د لمړنی سوسيا ليستی ټولنی په جوړولو با ندی لاس

پوری کړل . چې داپخبله یوه تاریخی تجربه اویا ا زما بینت وه چي د نورو هیوادونو نخبګا نو دهغه سره دهمدردی هیڅ احسا س نه درلود ل. برعکس هغوی په دی هیله او انتظا ر کی وه چي دغه پروژه په ډیر نژدی موده کی په نا امنه توګه سره ناکامه شی ( کوم چی همدارنګه دا پخپله یو انقلابی ازما ینت وه چی دخپلو پلویا نو هیلی هم څه ناڅه نا امید کړی وه اوداځکه چي تخیلی ا و خیا ل پرداز سوسیا لیستا نو ونشو کړلی چی دآتین دیونانی خدا یا نو په څیر دروسی دانقلابی تېندی یا اوچولی څخه داړه الها م یا ارمغان تر لاسه کړی ).

د لند ن ، پا ریس ، اود څنو نوروهیواد ونو اوڅا یونوکی کله چي د نخبګا نو په کړیو او یا حلقا تو کی د بلشویکا نو د نه ما تید و موضوع د هغو د ناهیلو سبب شو یا داچي دغه د نخبګا نو حلقات په دی با ندی متقاعد شول چي بلشویکا نو د ما تی یا د نا کا می سره نه دی مخا مخ ، نو دخپل داړ من هیلی د ترسره کولو د پا ره دا نقلا ب ضد سپینو (راسته اړخ ) ځواکونو د ملاتړ اود سور (کیڼ اړخ) بلشویکا نو د نا کا می یا د هغو د نسکورولو لپا ره دیو اوږد جګړی د پیل د پا ره چی بیا په یوه داخلی جګړی واوړی خپل سرتیری او نظا می قوتونه روسیی ته ولیږل .

دایتلاف یا د متفقینو دسرتیرو لمړنی ډله داپریل میا شت کا ل (1918) کی روسیی ته را ورسید ل کوم چي دبریتا نیا اودجا پا ن نظا می ځواکونه په **ولادیوستوک** کی ځای پرځای اومستقر شول- دغه دایتلاف را رسید لی سرتیری خپل اړیکی دروسیی دانقلاب ضد سپین پوستو سره برقرارکړل کوم چی له بریتانیا څخه (40000) سرتیری روسیی ته را رسید لی وه اوبیا دهمدغی کا ل (1918) د پسرلي په موسم کي د بریتا نیا د جنګ یا د دفاع وزیر، **چرچل** چی بیا وروسته د بریتا نیا لمړی وزیر وتا کل شو، نوهغه یو شمیراضا فی د بریګارد یا دسا تنی قوتونه دملاتړ دپاره چی دجنرال کلچاک (Kolchak) د قوتونو سره د بلشویکا نو پر ضد کمکی شی **مورما نسکی** (Murmansk) یعنی د روسیی شما لی سیمی ته ولیږل اوهغه هم په دي هیله چي که وشي کړی چی بلشویکي حاکمان له قدرته را نسکور کړی اود هغو پرځای د بریتا نیا سره په نژدی او د ښه اړیکو یو دوست دولت ځا ی پرځا ی شي .

نور هیوادونو هم لکه دامریکی متحده ایالات تر(15000) سرتیری ،فرانسه ، ایتالیا ، رومانیا ، صربستان او یونان هم خپل یو کم شمیر سرتیری د روسی د ضد انقلاب د ځواکونوملاتړاود پیاوړتیا د پا ره روسیی ته ولیږل .دیادونی وړمطلب داچي روسیی ته دغه د ا یتلاف نظا می نا بلل شوی ځواکونه د روسیی په پولوکي په څنی مواردو کی دا لما نا نو او د عشما نی امپراتوری دجګړه ما رو سره جنګ کول کوم چي په واقیعت کی وروسته دا سي را ښکا ره اوواضح شول چی دغه دایتلاف قوتونه روسیی ته یواځی او یواځی دبلشو یکا نودما تي اود نا کامید و د پاره راغلی وه او هغوغوښتل چي په زانګو

کي د بلشویکا نو د کوچنیا نو د خولی خندا چپه او خپه کړي . لکه همغسی چي **چرچل** په ډېر ظریفا نه بڼی سره وایي : « په ځا نګړی بڼی سره بریتا نیا هیله مند وه چي دهغوی په شتون دروسیي دهیواد ځنی برخي کوم چي لکه دعثما نی ا مپراتوری دزوال په درشل کی ځا یونه د یو پا سته او ګرم مړي په بڼه خولی ته را چمتو شوی وه چمتو دی شی » دا څرګندونی داپه ډاګه کوی چي ولی د بریتا نیا نظا می واحدونه د بین النهرین څخه د کسپین سمند رته ځی یعنی د عصری آ **ذربا یجا ن** پلازمیه **«باکو»** په شاوخوا کی د تیلو بډاینه سیمی ته کوم چي پخپله د یو لوی جنګ په څیر په روسیه کي دایتلاف مداخله دواړه هد ف ، فقط د ا نقلا ب سره ضد مبا رزه وه چي امپریا لیستی اهدا ف تر سره کړی .

په روسیه کي ،جګړه نه یوازی دتولنیز انقلاب یا بدلون لپاره منا سب شرایط رابرابر کړی وه بلکه همدارنګه کم ترکمه ددی لوی هیواد ځنی برخي د قومی لړکیو ترمینځ ملی انقلابونو ته هم چمتوالي ترسترګوکیدل دجګړی په اوږدوکی دا ډول ملی خوزښتونه هم پځپل غیږ کی خپل مشران اوږهبران روزلي وه ، کوم چي هغوی په بشپړ بڼی سره په مختلفو نژادی ، ښی اړخي ، محا فظه کا ر ، توکمیز او یهودی ضد ملی ګرا یا نو با ندی ویشلی او اړولی وه د ا لما ن سیا سیی او پوځی اشرافی ډ لی په دی حرکتونو کي خپل نژدی ایدیولوژیکی پلویان دروسیی په وړاندی د جګړی احتما لی متحد ین پیژندلی وه ، اودبلی خوا څخه داسی اند پښنه هم موجود وه چي « که لنین اوبلشویکان دروسیي پر ضد په جګړه کی په کا ر واچول شی ، ګټور به وي اما دبلی خوا څخه دغه انقلابی روسان د ا لما ن دارتجا عی رژیم سره په مخالفت کی وه » جرمنا نو د فنلا ند ،بالتیک



**Durck Urach(11-07-1918 -02-11-2018)**

اوداکراینی ملیګرا یا نو بی داید یولوژیکی همدردی اوهمغږی څخه ملا تړ نه کول ، اما دوی یعنی ا لما نیا نو په دی با ندی پوهید ل چي که چیری دوی پکا ر واچول شی نو کیدای شی چي روسیي واکداران ضعیف او یا کم بغله شی نو ا لما نیا نو همدغه کار هم تر سره کړل ځکه چي هغوی په دی هیله وه چي د الما ن پوری تړلی نور پلوی هیوادونه داروپا په ختیځ اوشما ل کی راوهڅوی اوبیا په ځا نګړی بڼی سره که د « پا چاها نو» حاکمیت تا مین شی کوم چی د ا لمان داشرافی کورنیوسره په نژدی اړیکوکی دی ، لوی

لاسته راوړنی به تر لاسه کړی نو په دی صورت سره **دبریتس لیتوفسکی** ( Brest Litovski) پیما ن په لاس لیک کولو سره د یوشمیر ایا لتونو د رامینځته کیدو فرصت به رامینځته کړی لکه همغسی چی یو ا لما نی **ارستوکرات دویلهیم** (2 ) **کا رل فلوریستا ن دوک اوراک** (Duck Urach) د اورتمبرګ (Wurttemberg) له کورنی څخه په لیتوانیا کی د جولای دمیاشتی له یولسمه کال (1918) بیا تردنومبرمیاشتی تر (دوهمه) کال (1918) د **مندا ګا س** (mindagas) په ایا لت کی د پا چاهی پر څوکی باندی کینینا ست او د سلطنت له مزایا و څخه لذ ت ویوړل ، اما د نومبر د یولسم تا ریخ کال (1918) د متا رکی له امله جرمنیا نو دختیځ اود شما لی اروپا له صحنی څخه ورک او تری تم شول اوپه دی توګه دالمان دهژمونی روحی اوروانی موضوع سقوط وکړ اما ددی توافقنامی په دوهم ماده کی المانیانو ته اجازه ورکړل شوی وه چی دهغه هیواد نظامی قوتونه په روسیه ، بلغا ریا او دشرقی اروپا په هیوادونو کی پا تی کیدای شی اوهغه هم ترهغه وخته پوری چی متحد ینو هغو ته دپا تی کیدو اجازه ورکوی یا په بل عبا رت ترهغه پوری چی جګړه اومبارزه د بلشویکا نو سره په ګټه وي داهمدغسی هم وه کوم چی ا لما نیا نو هغه ترسره کړل، اما په واقیعت کي د بریتا نیا اود فرانسی مشران اورهبران لکه لیوید جورج (Lioyd George) او فوخ (Foch) ورروسته له دي ، روسیه یی دیو انقلابی د ښمن په بڼه نسبت جرمن ته وپیژند ل په بالتس (Balts) فنلاند او لهستا ن کی ملی جنبشونه اوس په کلی توګه سره دروسیی په داخلی جګړه کی ورګډ شو ، اومتفقین بیا ، نو ،جرمنان دخپل ملاتړ په توګه په دی جګړه کی ځای پرځای کړل ترهغه وخته پوری چی دوی د ( سپینا نو ) په توګه د( سرو یا د قرمزو بلشویکا نو) سره دجګړی موضوع وه کوم چی دهغوی اکثریت دلته په روسیه کی جګړی وکړل اوداځکه چي دختیځی اروپا اصلی هیوادونه مخکی دتزار (Czarist) ملکیت اویا قلمرو وه کوم چي بیا ورروسته دهمدی روسا نو له طرفه ادعا شو چی دا سیمی لکه پولیند ، لیتوانیا اکراین اونور سیمی زمونږ پوری تعلق نیسی .

تول هغه هیوادونه کوم چی د تزاری ا مپراتوری دوریځو ډوړو او دغبار څخه را وروسته رامینځته شول د نظر اود ایده له نظره دوه ډول خلک درلود ، لمړی هغه ډله خلک یعنی کا رګران ، بزګران اود تیټ طبقو نور غړی چي د تولنیز انقلاب سره یی مینه درلوده یا د ا نقلاب څخه ملاتړ کول یا داچی د بلشویکا نو څخه حما یت کول او غوښتل چی د خپل توکمیزو لړکیو ، خپل ژبنی دخو نویو توکمیزو اودخو ژبنیو خلکو سره په هیواد یا ایالت کی چی په اجتتنا نا پذ یر بنی سره دروسا نو تر تسلط لاندی کوم چی د تزاری امپراتوری پر ځای دا تحا د جما هیر شوروی په نوم رامینځته شول د خود مختا ری په بڼه خپل حقونه ولری – دوم هغه داکثریت بله ډله خلک چي تول دارثی نخبګا نو ،مخکینی بورژوازی او کوچنی بورژوازی ډلی تپلی خلک وه چی له یوسره دتولنیز انقلاب ضد وه او بلشویکا نو سره مخامخ جنګید لی او دوی غوښتل

چې ځا نته نوی مستقل دولت ولری اود هغوی ملیګرایی د نولسمی (19) پیړی د ملی ګرایی له نوع څخه وه یعنی ښی اړخ ، محا فظه کار ، قومی ګرا ژبنی ، مذهبی تفوق طلبی او دتیر شوی عظمت په ظاهره کی یو حیرانونکی کیسه او افسانه کوم چی د ملی انقلاب له امله بیا له سره وزیږیده چی په فنلاینډ ، استونیا ، اوکراین اونورو ځایونو کی داخلی جګړه د(سپینو ) او د(سور – قرمزو) په مینځ کی پیل شو.

که چیری په ډیر مواردو کی ( سپین پوستو) بریا لي شو اود ضد بلشویکی دولتونو په جوړولو سره قا درشول دا یواځی د دی په خاطر نه وه چی بلشویکا نو داوړدی جګړی په ترڅ کی دروسی د ننه په زړه یا مرکزی برخه کی ددیوال په وړاندی جګړه کول او کافی وخت نه درلودل نو په همدی دلیل سره په ډیر نا پیډ ا او نا در بڼی سره ددی توان اوقد رت نه لرل چی په ډیر ښه شان سره دخپلو (سور انډیوالانو ) سره په با لتیک اود پخوا نـي تزاری امپراتوری څخه راپا تی ځا یونو کی ملا تړ وکړی او دبلی خواڅخه بل لوی ستونزه هغو ته داوه چي ککړی المانیانو او وروسته بیا متحدینو خصوصاُ انګریزانو ، (سپین پوستو ) سره مرسته جا ری کړل د بیلګی په بڼه دنومبر میاشتی په اخرکال (1918) کی دانګریزانو دسلطنتی سمندری قواو یو هوایی یونټ د دریا سالار **ادوین الکسا ند ر سنکلار** (Edwyn Alexander) او ( وروسته بیا بل سلطنتی دریا سالار **والتر کوان** « Walter Cowan ») دبلتیک په سمندرکی دسپین پوستو استونیانانو او لتوانینو ته سلاح او جنګی مهمات مرسته ترسره کړ چی هغوی وشی کړلی چی دخپل (سور وطنوالو ) اودبلشویکا نو سره وجنګیږی د بلی خوا څخه انګریزانو دروسیی یوشمیر بیړی په سمندر کی ډوب کړل او نورپا تي بیړی او کشتی ګا نی یی کرونستان (Kronstad = دروسیی سمندری اډه) ته منتقل کړل او د فنلند په اړه د (1918) کا ل د پسرلی په موسم کي ا لما نی پوځیا نو دهغه ځای دمحلی (سپین پوستو) سره مرستی ترسره کړل ترڅو چی هغوی بریا لی شی اوداتوان تر لاسه کړی چي خپل آزادی اعلان کړي .

دا په څرګند توګه سره دلند ن ، پا ریس ، واشنګټن اود نورو همنظرو ارستوکرا تا نو (اشرافیا نو) پریکړنی اراده وه چی د(سپین پوستو) د بریالیتوب لپا ره په تضمینی بڼی سره با ید چی (سورو یا قرمزی روسا نو) دروسیی په داخلی جګړه کی دهغه قیمت یا بها ورکړی اوپه دي ډول سره بلشویکی سا زمان چی په لوړ مقیا س سره یو ازما ینت شوی اویا د ډیرو تجربو یو لاسته راوړنه دی دانګریزانو ، فرانسویا نو ، امریکا یا نو اوځنی نورو همنظرو هیوادونو په اراده اود لوړو تما یلاتو په لرلوسره با ید چي نسکور شی اما دهغوی دغه شرط بندی په نارضایتی باندی بدله شو لکه هغسی چی دپسرلی په موسم کا ل (1919) کي **لوید جیورج** (Lioyd George) د **جورج کلما نسو** (George Clemenceau) په ا درس چی د فرا نسی د ببرپه نا مه سره مشهوردی یو لیک واستول او په هغه لیک کی هغه ته لیکلی وه چی (دلته اوس په ټول ا روپا کی

د خلکو ذهننونه په انقلابی روحیی سره ډکه شوی دی ، هغه همدارنګه پخپل لیک کی یا دوی چی د لته نه یوائی داچی خلک نا راض دی بلکه د کا رګرانو په مینځ کی د جنګ جګړی پر ضد قهر او غضب را پارید لی دی او په ټولنیز او اقتصادی اړخونو کی دخلکو سره سوالونه را پیداشوی اودلته هغه حا لت او وضیعت دی چی داروپا د یو اړخ څخه بل اړخ ته ټولو پرګنو سره دا اندیښنی را پیدا شوی دی .)

د متفقینو مداخله په روسیه کی دکوم لاسته راوړنی سره مل نشواوهغه داچي دروسیی د(سپین پوستو ) ضد انقلاب سره خا رجی مرستی نظر ودی ته چی داکثر روسا نو په سترګو کی دهری ورځی په تیریدو سره بلشویکا نو هغو ته دواقعی وطنپرستا نو په بڼه راښکاریده ، بی اعتباره کړل او دهمدی دلیل پراساس خلکو خپل ملاتړ بلشویکا نو ته اعلان کړل ، په هرصورت بی ویلو دی پا تی نشي چی دبلشویکا نو دغه ټولنیز انقلاب په عین زمان کی دروسیی یو ملی انقلاب هم وه یعنی مبا رزه دروسیي د مور دژوند ، خپلواکي اودوقار لپاره په لمړی سرکی دالما نیا نو او وروسته دامریکا یا نو سره کوم چی هغوی له هر اړخه پر روسیی با ندی حمله وکړل اوهغوی دا سی انګیرل کوم چي هغوی په مرکزی افریقا کی دي ( نو له دی نظره بلشویکا نو زیات دفرانسی دانقلابی ژاکونیانو «Jacobins» سره ورته والی درلود کوم چی هغوی په عین زما ن کی هم دانقلاب او هم دفرانسی دسا تنی دپا ره مبا رزه کول ) نودهمدی حالت څخه بلشویکانو ډیر ګټی تر لاسه کړل او هغه داچي زیات بورژوازی ملیګرایان حتی تر اشرافیانو پوری دهغه څخه خپل ملاتړ اعلان کړل چی دا یو له هغه سترعا مل څخه وه چی بلشویکا نو دروسیی په داخلی جګړه کی د(سپین پوستو ) اود نورو ضد انقلاب په مقا بل کی بری تر لاسه کړل حتی تر دی حده پوری چی روسیی اشرا ف زاده جنرال ***بریسیلوف*** *(Brussilov)* هم خپل ملاتړله روسی سوریا قرمزی روسانویا بلشویکانوڅخه اعلان کړ هغه یعنی جنرال ***بریسیلوف*** داسی څرګند کړ: ( له خپل دندی څخه په پوهاوی نسبت دروسیی ملت ته ، ما دی ته اړ کړ چی د خپل نا منلی طبعی اجتما عی غرایزو څخه لاس پرسر شم ) په هرصورت د ارنو مایر*(Arno Mayar)* په قول سره (سپین پوستو داسی کوم ستر ځواک بی له دمخکینی دحکومت دلړه کیو څخه بل شی نه وه اودهغو سره یواځي دځنو حاکمانو ، نظامی افسرانو ، دخمکی خاوندانواو دکلیسا دپیروانو ملا تړ وه اوهغه هم داسی خلک وه چي ټول په فساد سره اخته اودخپلو متحدینو پیسی یی پخپلو جیبونو کی واچول.

سره دهغه چي په روسیه کي د متحد ینو دلاس وهنی له امله ځنی وختونه د بلشویکا نو په وړاندي صلیبی جنګونو ته لمن وهل کیده هغه هم د بشپړ ناکا می سره مخا مخ شو اوهغه داچي په بریتا نیا ، فرانسه اودغرب په نورو ځا یونو اوهیوادونو کی بی شمیره سرتیری اوغیرنظامیا ن خپل مخا لفت د جګړی په وړاندی ښکاره کړل ، اودهغوی شعار دا وه [ خپل لاسونه له روسا نو څخه لیری کړي ] بریتا نیا وی سرتیری دنومبر

میا شت کا ل (1918) د متارکی څخه وروسته مجبوره نه وه چی بی ځا یه شی یا داچی د جنګ په پا یله کی له مسلح قواو څخه وویستل شی او یا چیري ولیږل شی ځکه چی دبریتانیا نظا می لوړ پوړی چا رواکی نظر لرل چی سرتیری روسیی ته ولیږی اما سرتیری د دی امرپه مقا بل کی غبرګون وښودل ، د بیلګی په توګه دجنوری میا شت کا ل (1919) په **دوبر** (Dover) **کالایز** (Calais) اونور بند رونو کی په شورش لاس پوری کړل شواوبیا په همغه میا شت په ګلاسګو (Glasgow) کی هم یو لړ اعتصا با ت رامینځته شو کوم چی اعتصا ب کونکو شعا ر ورکول چی ( نور دروسیی په داخلی چارو کی لاس وهنه بند کړی ). د مارچ په میا شت کا ل (1919) دکا نا دا سرتیرو دریل په اردوګاه یا د والس (Wals) کمپ کی په شورش لاس پوری کړل چی دهغه په ترڅ کی پنځه تنه خپل ژوند دلاسه ورکړ او (23) نورکسه ټپیا ن شول اوبیا وروسته په همدی کا ل (1919) کی ورته شورشونه اواعتصا با ت د نظا میا نو په کمپونو کی رامینځته شو اوټول دغه ستونزی په قطعی بنی سره ددی موجب وګرځید چي سرتیری په بی صبرانه توګه سره ددی فرصت په لټه کی وه چي بیرته خپل کورونو ته راستون شی او همدارنګه هغوی وښودل چی زیات شمیر نظامی قوتونه دنامعلوم مودی د پا ره نشی کولای چي دلته په روسیه کی پا تی شی یا دهغوی دخد مت موده لا پسی اوږد شی اوپه همدی شا ن دفرا نسی د پا ریس په ښا رکی اعتصا ب کونکو په لوړ آواز سره وغوښتل چی با ید د روسیي په داخلی چا رو کی د نظا می مداخلی څخه ډده وشی اود فرانسی هغه قوتونه کوم چی په روسیه کی میشته وه نورونه غوښتل چی دبلشویکا نو سره جګړه وکړی بلکه غواړي چي زرتر زر بیرته خپل هیواد او کورونو ته را وګرځي دفبروی ، مارچ اوداپریل په میا شتو کال (1919) کی دفرانسوی نظامیانو تظاهرات د**اودیسه** (Odessa) په بند ر کی اود بریتا نیا وانو د سرتیرو تظا هرات په شما ل **مورمانسک** (Murmansk) شروع شولُ ، تر هغه ځا یه پوری چي خني بریتا نیا وی سرتیری خپل مخ له جګړی څخه شا ته واوړول اود بلشویکا نو د صفوفو سره یوځای شول . هغه سرتیری کوم چي د **وردن** (Verdun) او**د مارن** (Marne) له جګړو څخه روغ رمټ خلاص شوی وه نور ونه غوښتل چی دروسیي په دښتونو او بیا با نونو کی جګړه وکړی داهغه څه وه کوم چي د فرانسی یو نظا می افسر بیا ن کړ . د امریکی د متحده ایالاتو یوشمیر نظا می قوتونه په دی هڅه ا و کوښښ کی وه چی څنګه کولای شی چی له روسیی څخه بیرته خپل وطن ته لاړ شي - د متفیقینو زیا ت سرتیری د روسی دانقلا بیا نو سره یو لاس شول اوهغوی زیا ت د بلشویکا نو تر اغیزی لاندی پریوتلی وه کوم چی هغوی د بلشویکا نو سره جنګیدلی وه او په دی ډول حالات داسی بدل شو چی په کا ل (1919) د پسرلی په موسم کی د فرانسو یا نو، انګریزانو کانا دا یا نو ، ایټا لیا یا نو، امریکا یا نو اونور خا رجی سرتیری سرځړوند او په ډیر بی شرمی او خجا لتی سره له روسیی څخه ووتل .

ولوید یځ اشغا لګرو ونشو کړلي چې د مسلحا نه مداخلی له لاری پر بلشو یکا نو با ندی بریا لي شي ، نو په دی ډول هغوی خپل روش ته تغیر ورکړ اوخپل سیاسیی او نظا می سخا وتمند ا نه مرستی او ملاتړ هغه نوی هیوادونو ته کوم چي د تزاری امپراتوری له نسکورید و څخه وروسته رامینځته شوی وه لکه لهستا ن اود بالتیک نوی هیوادونو ته جا ری کړل، دغه نوی رامینځته شوی هیوادونه د ملی ا نقلابونو محصول وه چی دمخکینی تزاری امپراتوری دلویدیځی برخی څخه رامینځته شوی وه لکه پولیند ، اودبالتیک هیوادونه ر. دغه نوی رامینځته شوی هیوادونه بی د کوم ا ستثنا څخه لکه چی مو مخکی وویل د ملی انقلابونو محصول وه چی د یو ډول ارتجاعی نا سو نیالیزم څخه الهام تر لاسه کړی وه کوم چی ټول د ضد یهودی په نوم سره بد نا م وه اودوی له یو سره دمخکینی راپا تی شوی نخبګا نو لکه دهغه جملی څخه د ځمکو دغتو زمیندارانو، جنرالانو ، اشراف زاده ګا نو ، د کلیسا د رهبرانو او د صنعتی فابریکو د صاحبا نوتر اغیزی لاندی وه او په استثنایی بڼی سره بی د چکوسلواکیا نه نور هغوی ټول یوهم دموکرات نه وه اودوی اغلباً دیو مقتدر نظامی افسر کوم چی هغه داشرافیت منشا لرل رهبری کید ل لکه دبیلګی په بڼه په **هنګری** کی د**هورتی** (Horthy) په **فنلیند** کی د **منیرهایم** (Mannheim) اوپه **پولیند** کي د **پیلسودسکی** (Pilsudski) پواسطه سره .
ددغه نوی دولتونو د ضد بلشویکي ښکا ره او لوخ دریځ د ضد روسيي داحسا سا تو په څرګندولو سره مل شوی وه اوبلشویکانو وشو کړلی چی دپخوانی تزاری امپراتوری له سقوط څخه راپا تی ځنی برخی خپل قلمرو ته بیرته راستا نه کړ لکه داکراین ساحه .
ددغه سربېړال او ګیچ کونکی ښېتو اودمخا لفتونو پا یلي یو ډول الزام یا غوتی وه .بلشویکا نو په روسیه اوپه لیری ولویدیځ کی بری ترلاسه کړل ، ا ما د روسا نو اود بلشویکا نو ضد نا سونا لستا نو د لو تپلو دخپل لوی لوړتیا غوښتنی په لرلو سره په غرب اود شما ل په ټولو برخو کی خصوصاً په پولند اودبا لتیک په نوی را مینځته شوی هیوادونوکی دخپل نفوذ اودتسلط رامینځته کیدو دپاره هلی ځلی کول اوداهغه هڅی او اند وه چی ددی محدود ساحي په لرلو سره هیڅوک نشو راضی کولی اما په نهایت کی دوی له یوسره په دی راضی شوچي په دغه ځایونوکی راپا تی شی اوهغه هم یواځی د یو لنډې (مودی) د پا ره - دوی وروسته له دی چي په دی باندی جوړ جاری کړ چی په همدغه محدود ساحه کی تر یوه مودی پوری پا تي شی نو د هغی په څنګ کی دوی دروسيي په شا وخواکی دیو فا صل کربنی په را ایستلوسره نوی رامینځته شوی هیوادونه دروسيي سره په د ښمنی او په خصومت کی ترخپل مرستی او د ملاتړ په کولو سره خپله کړل اوهغه هم لکه هغسی چی **مکمیلن** (MacMillan) لیکی د لویدیځ مقصد ددی کربنی د را ا یستلو څخه هد ف دا وه چي که وشي کړی ( بلشویسم په روسیه کی یواځی اوتجرید کړی ) اودا هغه هڅی او اند وه چی غربیا نو هغه ټول تر سره کړل او په پرلپسی توګه سره دغربی هیوادونو په پلازمینو لکه په **لند ن** ، **پا ریس** او **واشنګټن**

*کی د بلشویکی انقلاب د نسکورولو هڅی او اند ژوند ی وه ا ما د دغو لویدیځو حلقو هڅی او اند دعمل جا مه وانغوستل اونا کا مه شو نو وروسته له هغه لویدیځ قوتونه د کال (1930) په لسیزو کی په دی هیله شو چی نازی ا لما ن دروسیی دانقلاب د نسکوریدو دنده پر غا ړه واخلی نو د همدی د لیل له مخی هغوی* **هیټلر** *ته ا جا زه ورکړ چی جرمنی له سره ملیتا ریستی یا نظا میگری ته واړوی اود (سپکا وی) پا لیسی له لاری هغه یعنی* **هیټلر** *وهڅوی چی دا کا رترسره کړی یعنی د روسیی انقلا ب ړنګ اورا نسکور کړی .*

**------------------------------- په درناوی «2018-12-16».**